# ډیورنډ، "ډیورنډ لاین" او امیر عبدالرحمن خان

**( د برتانیي د کسات لېنکرې )**

د امیر عبدالرحمن خان له ژوند لیک،تاج التواریخ، څخه دا خبره په غوڅه توګه جوته ده چې نانځکه-لوبونکي او نانځکه دواړه د یوه بل پر عزایمو شکمن وو. له همدې کبله ده چې، د وخت له تیریدو سره، د برتانوي کلونیالیزم واکدارانو له خوا د امیر تعریف او پیژندتیا په بدلیدو وه. د برتانوي هند د بهرنیو چارو وزیر، مورتایمر ډیورنډ، په یوه وینا کې امیر عبدالرحمن "سرتمبه او د ناباور وړ متحد" بللی.

د ۱۹ پیړۍ په وروستی لسیزه کې د برتانیا پرخلاف د افغانستان په هر ګوټ کې د افغان ملت د پاڅون په اړه د یوه رپوټ په ترڅ کې، یو برتانوی افسر، لیفتیننټ تې. پي ډوډل، لیکي چې "د افغانستان امیر، له موږ سره د انډیوالی له اظهار او ډیورنډ لاین سره-سره، په دې نارامیو کې لاس لري. درې میاشتې پخوا په ۱۸۹۷ کال کې امیر دافغانستان هرې برخې ته خپل کسان استولي وو چې اولس د جهاد لپاره چمتوکاندي... نوموړي بیا اتیا زره توپک یې (چې په کابل کې د انګریزي ماهرانو تر لارښوونې لاندې جوړیدل) په دوه-عشاریه شپږ بیه [مالومه نه ده چې په "دوه روپۍ او شپږ آنې او یا په دوه شلینګه او شپږپنسه – ځکه چې په انګریزي متن کې -2/6 each ویل شوي] په سرحد کې پر خلکو پلورلي دي. د دې کار په کولو نوموړی له دې کبله توانیدلی چې له موږ سره د هغه د انډیوالی د تضمین لپاره د سبسایډي په توګه ډېرې پیسې ورکوو." [ویکتوریا سکوفیلډ – ۱۰۷ مخ]

په هرحال، په هغه وخت کې یې "اوسپنیز امیر" ته اړتیا لرله او له همدې کبله یې په خپل څنګ کې ساتهٔ. مګر کله چې "برتانوي راج" د افغانانو پرضد "فارورډ پالیسي" بیا پیل کړه، نو له عبدالرحمن خان سره د "انډیوالی" نقاب یې څیرې شو. زړې پالیسی ته د پرنګي د بیا ګرځیدو نښې هغه وخت څرګندې شوې کله چې کلونیلستي حاکمانو د خپلو پوځونو د خوځولو او اډه کولو په موخه په ختیځ او سهیلي افغان-خاوره کې د سړکونو او ریلګاډو په جوړولو لاس پورې کړ. د دې غزونو په منځ کې یو هم په بولان کنډو او په کوژک غره کې د تونلونو پریکول وو. دا له کوټې تر چمن پورې په پنځوس میله واټن کې بنا شوي وو. پدې هکله د خپلې غوسې او ناتوانی د ښودلو په ترڅ کې، امیر عبدالرحمن خان په خپل ژوند لیک کې وایي چې: "د کوټې-چمن د ریلګاډې پټلي د یوې چړې په شان ده چې زما ځیګر څیري."

د امیر او پرنګي واکمنو تر منځ د تاوتریخوالي بل لامل دا و چې عبدالرحمن خان د ملي مسایلو په هکله د ګرد افغانستان له قومي اوقبایلي مشرانو سره سلا کولو ته دوام ورکاوه. امیر دا خپل حق بالهٔ چې له هغوافغانانوسره، چې سیمې یې د ګنډُمک د توافق پر اساس برتانیا ته په کرایه ورکړ شوې وې، په تماس کې وي. پدې برخه کې په "لیز" ورکړ شویو ځمکو کوم محدودیت نه و لګیدلی اونه امیر عبدالرحمن په کښې کوم منطق لید.

## د ګنډُمک پوهاوي لیک په نهمه ماده کې ویل کیږي:

**۹ ماده: د دواړو دولتونو ترمنځ د دوستۍ د اتحاد د نوي کېدلو په پام کې نیولو سره، چې [د دې پوهاوي لیک] د مخکنیو مادو په ترڅ کې تائید او خونديِ شوی دی، د برتانیا حکومت د افغانستان او ملحقاتو جلالتمآب امیر ته د کندهار او جلال اباد ښارګوټي ـ له کُرمې، پشین او سیبۍ پرته ـ د ګردو هغو سیمو په ګډون چې دا اوس د برتانیا د پوځ په لاس کې دي بېرته ور سپاري. د افغانستان او ملحقاتو جلالتمآب امیر، له خپله لوري، موافقه کوي چې د کُرمې، پشین او سیبۍ سیمې به، [له دې لاسوند] د مله [ضمیمه] پلان له حدودو سره سم، د برتانیا د حکومت تر حمایې او اداري لاندې پاتې شي. د دې مانا دا ده چې نوموړې سیمې به د ګومارل [کرایه - Lease] شویو سیمو په توګه پېژندل کیږي او په داسي توګه به ورته نه کتل کیږي چې ګونډې هغه د افغانستان د سلطنت له پولو څخه د تل لپاره جلا شوې وي. د دغو سیمو عایدات به، د اداري لګښتونو له اخستلو وروسته، جلالتمآب امیر ته ورکول کیږي. د برتانیا حکومت به د خیبر او مېچنۍ کنډوونو کنترول، چې د پېښور او جلال اباد د ضلعو [سیمو] ترمنځ پراته دي ـ او له هغو ازادو قبایلو سره د اړیکو پر ګډون چې له دې کنډوونو سره سیده تعلق لري ـ هم تر خپل کنترول لاندې وساتي.**

نو پدې توګه که څه هم چې امیر د خپل قدرت په مقابل کې د ګن-شمیر بغاوتونو په څپلو لګیا و، د کلونیالیزم پرخلاف یې مقاومت هڅاوه او ملاتړیي کاوه. له همدې کبله و چې مورټایمر ډیورند، "ډیورند لاین" (چې نه په ډیفکټو اونه ډیجور بنه وجود لري یواځې یوه خیالي کرښه ده) پر امیر تحمیل کړ ترڅو یې په هغو سیموکې د "نفوذ ساحه"، چې پرنګي ته – د "نظم او قانون" د ساتلو په موخه، په کرایه [لیز] ورکړل شوې وې، محدوده کاندي.

دا پوهاوی لیک د "سل کلونو" لپاره د اتبار وړ و چې د هغې نیټې له بشپړیدو وروسته بشپړه افغان-خاوره باید افغانانوته ورسپارل شوې وای.

یواځې له افغانستان سره داسې پوهاوی لیک نه و شوی، بلکې دا د هغې زماني د پرنګي دودیزه کړنلاره وه. له تزاري روسیې سره د ۱۹۰۷ کال په کنوانسیون پسې، ایران هم د برتانیا او روسانو تر منځ د "نفوذ ساحو" په ترڅ کې ویشل شوی و. پدې هکله یې ترمنځ یو پوهاوی لیک لاسلیک شوی و چې پر بنسټ یې هغو "دوو زبرځواکونو" ایران د نفوذ پر دوو سیمو وویشه: سهیل یې د برتانیا د نفوذ سیمه؛ شمال یې د روسیې د نفوذ ساحه؛ او تر منځ یې یوه بېطرفه سیمه پرېښې وه چې په هکله یې "دواړو خواو ژمنه وکړه چې هلته به د ځانګړو ګټو غوښتنه نه کوي." د روسانود نفوذ ساحه تر برتانوي نفوذ-سیمې څخه ستره وه، چې پکې تهران هم شامل و. خو په سهیل کې د برتانیا د نفوذ په ساحه کې تیل موجود وو، چې په هغه دم د اخراجولو په درشل کې وو.!!

په ۱۸۹۷ کې د چین خاوره، هانکانګ، برتانیا په کرایه واخسته. پدې اړه پوهاوی لیک د "سل کاله" مودې لپاره د اتبار وړ و. له هغه وروسته باید هانکانګ چین ته ورسپارل شوی وای.

له نړیوالې دویمې جګړې وروسته برتانیا او روسیې، چې ایران یې مخامخ اشغال کړی و، په ایران کې له خپلو د "نفوذ سیمو" څخه ووتل اوایران بشپړ خوندي ایران ته وسپارل شو.

له سل کلني مودې بشپړېدو وروسته، هانکانګ هم په ۱۹۹۷ کې چين ته وسپارل شو.

## له افغانستان سره څه وشول:

لاسوندونه د دې واقعيت ښکارندوی دي چې "په هغه وخت [۱۸۹۳] کې پر دې موافقه شوې **وه – چې د هانکانګ پر مودل – له سل کاله وروسته به هغه سيمه چې د برتانوي هند شمالي صوبه سرحد په نوم ياده شوه – بېرته افغانستان ته وروسپارل شي. په کابل کې هيڅ يوه حکومت هم ډيورند لاين او په دې سيمه د برتانيا او يا وروسته بيا پاکستان ولکه منلې نه وه."**

## افغان ملت د پرنګي انتقام دردوونکې څپېړې سره مخامخ شو.

**خپل مورني هيواد ته د بېرته ورسپارلو پر ځای، افغان ملت او خاوره يې د برتانيا "په دفاعي او تعرضي پوځي اډه واړول شوه"  چې په منځني ختيځ کې د برتانوي امپرياليزم د "څواک ځاکانې" [تيل] وساتي. امپريالستي برتانيا افغان ملت ته، چې پرخلاف يې مقاومت کړی و او په سيمه کې يې د پرنګي اوږد مهاله اجندا ناکامه کړې وه، ژووره کينه په زړه کې ساتله. کلک تصميم يې لاره چې د افغانانو پر لاس د لومړي، دويم او دريېم جنګ په بهير کې يې د خپلې ماتې بدل واخلي. په ۱۹٤۷ کې له سيمې څخه تر ظاهري وتلو وروسته د دې کسات اخستلو لپاره تنده ماتول يې د لارد ويول/جناح/لارډ مونټباټن پاکستان پر اوږو کېښودل. او پاکستان دا دنده په خورا ښه توګه سر ته رسوله. د پرنګي دايې پر لاس له زېږېدو راهيسې، "اسلامي پاکستان" د اسلام له نوم څخه - د اسلام د کاواکولو - اوافغان ملت د تجزيه ساتلو او نابودولو لپاره په رياکارانه او منافقانه توګه ګټه پورته کړې ده.**

## دا پروسه لا اوس هم دوام لري.

**مارک کرټيس د "مرموزې چارې" تر سرليک لاندې کتاب [په ۲۰۱۰ کال د سرپينټ ټېل خپرونه، لندن] په ۳۱۳ مخ کې ليکي چې: "په منځني ختيځ کې د برتانيا اوسنی کړنلاره هم د هغې اقتضا پر بنسټ ولاړه ده لکه کومه چې د تېرې پيړۍ په بهير کې وه. له طالبانو او په اسلام اباد کې دهغوی له ملاتړو سره معامله؛ د اخوان المسلمين او "پروفيسرانو" څخه مزورانه ګټه پورته کول هغه پاليسۍ دي چې د برتانوي پلانوونکو د پخوانيو نسلونو لپاره به د پېژندنې وړ وي ... د برتانيا حکومت، په واقعيت کې اوس بيا له اسلامي اکترانو سره لاس-لستونی، غوارې په افغانستان کې  کوم څه چې د ژغورلو وړوي، وژغوري او هلته د خپلې بهرنی پاليسۍ موخې تر لاسه کاندې. دا له يوې خوا، د يوې ډلې طالبانو سره معامله وکړي ترڅو په هغه هيواد [افغانستان] کې ترې د "بيل يې کړه، ايل يې کړه" ستراتيژې مخ پر وړاندې بوځي، او له بلې خوا له پاکستان سره په تباني کې واقعاً د هغه ملاتړ د بيا نوې کولو ملاتړ وکړي چې په ۱۹۹۰ کلونو کې يې طالبانوته رساوه. طالبان تر ډېره حده د دې لپاره زيږول شوي وو ترڅو اسلام اباد پر افغانستان حکومت وکاندې."**

**د برتانيا له خوا د همدې "مرداري لوبې" د لوبولو له کبله ده چې په افغانستان کې جګړې شدت موندلی دی. د دې لپاره چې پر سيمه خپله ښکيلاکې ولکه خوندې وساتي، برتانيا په عمدي توګه دا وضع پُنځولې ده. "په سهيلي ولايت، هلمند،کې جګړې - هغه ځای ته د**

***

د افغانستان په اړه ليکني اوکتابونه، اوسني او پخواني، چي زيات شمير يي د برتانوي واکدارانو په لاس او يا تر لاربښووني لاندې ليکل شوي دي، له دوه مخيو او غولونوڅخه ډک دي. داسي وګړي يواځي د ألف کيرو پر ځير ليکوالانو ته محدود نه دي، چي د "پټان" تر نوم لاندې کتاب يي د پرنګي غولوني يو سمبول – د "بيل يي کړه، ايل يي کړه" يوه تيره وسيله او پنجابي پوځي-بيروکراسی ترې د "بايبل" کار اخلي. بلکې د نن ورځې برتانوي ليکوالان هم د دې چوکاټ بنده ګان دي. په ظاهري توګه دا کتابونه د حقايقو لوڅوونکي ښکاري، خو په واقعيت کي له استثنا پرته ګردو تکل کړی چي د امپرياليزم ستراتيژی منځنی موخې او له هغې نه راشاته پاتې عواقبو په هکله يي خورا کيليېز او غوره واقعيتونه پټ وساتي.

د پخواني کارګر ګوند د حکومت د بهرنيو چارو وزير، ډيويډ ميلابانډ، د ۲۰۱۰ کال د اپريل پر لومړۍ نيټه يوه مقاله وليکله. عنوان يي:"په افغانستان کي جګړه ښنګه پای ته رسولی شو؟" د ميلابانډ مقاله، که څه هم لنډه، خو د پرنګي تفکر او دريځ (تکبُر، بيرحمي، توکميز تعصب، خپل ځان په حقه بلل) ښکارندويه ده. له همدې کبله دا به پر ځای اوموکه وي چي د نوموړې مقاله – د يوې کانديدې بېلګې په توګه – تر شنني [تحليل] لاندې ونيول شي.

ښاغلی ميلابانډ خپله مقاله پدې پيل کوي چي "نه برتانيا اونه هم امريکا په افغانستان کي جګړه پيل کړې ده. په ۱۹۹۰ کلونو کي د هغه هيواد د طالبانو حکومت القاعده ته خوندي ځای او ملاتړ ورکړل. افغانستان د سپتامبر د ۱۱ بريد لپاره زانګو وګرځېد."

د ميلابانډ ادعا له حقايقو سره سر نه خوري. نوموړي تکل کړی چي واقعيتونه پټ کاندي. واقعيت دا دی چي:

(۱)- په افغانستان کي هاغه دم د طالبانو حکومت نه، بلکې د پاکستان له خوا د کينول شوي او برتانيا له خوا کانديد شوي "لويديځ-پلوه" پروفيسور ربانی د کابل پر تخت ډېده وهلي وه.

**(۲)-** روهان ګواناراتنا "په القاعده کې د ننه" کتاب په **۲۱** مخکې لیکي: "پداسې حال کې چې د آی اس آی له خوا ورپیژندل شوی او د سعودي تولواکې کورنۍ له خوا تمویل، بن لادن د سي آی اې او اِم آی-٦ خورا لوړ- بیه چوپړي و. "د أسامه بن لادن مذهبي مفکوره هغه وخت ډیره پیاوړې شوه کله چې د افغان- پاکستان په سرحدي سیمو کې اوسیدهٔ. [په اسلام اباد] کې یې – د عمر عبدالرحمن په شمول چې پاکستان ته په **۱۹۸۵** کال کې تللی و – له ګڼ شمیر مذهبي واکدارانو سره نږدې اړیکې لرل. که څه هم أسامه [په افغان جهاد کې] پوځي نه، بلکې مرستندوی رول لوباوه، خو د کمپاین په وروستیو پړاوونوکې یې په جګړه کې هم ونډه درلودله. یوه ځانګړې بیلګه یې پر جلال اباد د **۱۹۸۶** کال برید دی."

نو پدې توګه برتانوي ریاکاران، چې په تبجنه توګه یې دلیل وړاندې کاوه چې ګواکې پر افغانستان یې د **۲۰۰۱** کال د اکتوبر پر اوومه لدې کبله برید کړی و چې د القاعده زانګووه، له واقعیت سره سر نه خوري. پر شواهدو ولاړ واقعیت دا و چې برتانیا د خپلې تاریخي پالیسي، "ببل یې کړه، ایل یې کړه"، د عملي کولو لپاره له مذهب د خورا تېرې او اغیزمنې چړې په توګه ګټه پورته کوله.  واقعیت دا و چې د القاعده د نظریې لپاره "زانګو" تر دوه پیړیو څخه له زیاتې مودې د مخه د برتانوي راج په فابریکو کې جوړه شوې وه. او د یوویشتمې پیړۍ د القاعده دزیږولو زانګو، د برتانیا د "پوځي اډې" – یانې د "وېول-جناح پاکستان" – پلازمینه، پنجاب و.

"رسمي دریځونه او دلایل داسې څرګندوي چې ګنې په **۱۹٤۷** کال کې د هند ویش یواځنۍ لار وه ترڅو د نایخلاکیدونکو مذهبي اختلافاتو مخنیوی وکړل شي. خو د لارد مونټباټن د مرستیال، سریلا، په لاس راټول شوي لاسوندونه دا جوتوي چې دا کار په منځنې ختیځ کې د برتانوي امپریالیزم د ګټو خوندي ساتلو، یانې په هغه سیمه کې د تیلو چینې – او د هند سمندري سیمو ته یې د لارې درلودلو لپاره، هند وویشل شو. د سریلا له خوا دا نوی لوڅ کړ شوی تاریخ، چې پرې پخوا سترګې پټې شوې وې، پر هغو پټو اسنادو ولاړ دی چې مونټباټن لیکلي او د هغه په کتابتون کې پراته دي. دا لاسوندونه د ګاندهي، جناح، مونټباټن، چرچل، اتلي، وېول،نهرو اونورو په رول نوې رڼا اچولې ده. د برتانیا د کلونیل تاریخ د کیلییزو شیبو دا رادیکل بیا-ارزونه پخپله د خورا اهمیت وړ، اوپر هغه سربېره د دې لپاره قانع کوونکې دلایل وړاندې کوي چې د اسلامي تروریزم ریښې به،  چې دا نن د نړۍ په اوږدو کې خپور دی، د  هند په وېش کې پرتې وي."

د برتانیا امپریل ستراتیژي تل پرځای او په کې کوم بدلون  نه دی راغلی: هغه دا چې پر نورو ببوزلو کاواکه اوبیواکه کړو هیوادونو یرغل کوي، ژوند یې تباه کړي، د ژوند او ژوندي پاتې کېدو له ټولووسایلو یې بې برخي او بیا پېره هم پر هغو اچوي چې د دوی د وحشت قربانیان دي. د هغو لسګونو ملیونه بیګناه انسانانو پر وژنو، معیوبولو او بېکور-اوره کولو په اړه، چې د خپلې پوځي اډې، پاکستان، د زیږولو په موخه د هند د څیرولو په پایله کې رامنځ ته شوې، د امپریالیزم واکدارانو په خورا بېرحمۍ پړه پر هندي ولس واچوله. وینستن چرچل، چې ددې ستروونیوبهیولو د غوره لوبغاړو په ډله کې و، لیکي چې: " اوس خو لا د دې وحشت پیل دی ... داسې وحشت چې د یوه بل پر خلاف د سړي

***

د امپيرياليزم پر تاريخ د تبصري په ترڅ کي،ډيويډ ميلاباند په خپله مقاله کی ليکي چي:
"برتانيا په افغانستان **کی د ۱۸۳۹ او ۱۹۱۹** کلونو تر منځ درې جګړې کړې. هره جګړه يې په برتانوي هند کي د خيل ځواک د اډې ساتلو او اقتصادی ګټو د خونديتوب لپاره کړې وه." ځومره متکبرانه دريځ! نوموړی نه پواځي دا چي د سلګونه زره افغانانو د وينوتويول اوهيواد ويجاړول يې موجه بلي، بلکې پر دې **هم سترګې پټوي چي د هرې هغې جګړې او انګريزانو د ماتې په پايله کې يې افغانستان ته د کسات لښکرې استولې. په ۱۸۳۹ کال لومړی جګړه او د پرنګي ماتې، په ۱۸٤۲ کال کې افغانان د برتانيا د انتقامي لښکرو ښکار شول چي په بهير کې يې کابل په اور کې وسوځېد. په دويمه جګړه، ۱۸۷۹ کال په ميوند کي د پرنګي ماته، په ۱۸۸۰ کال کې د برتانيا د کسات په لښکرو منتجه** شوه. پدېې موکه جنرال رابرتس ته لاربښوونه شوې وه چي "ستا موخه بايد د ترهي اودهشت پلي کول وي، او هغه بايد بيله ځنډه او په ژوره توګه پلي کړې." جنرال رابرتس هم دا کار په خورا بشپړه توګه سر ته ورساوه. په **۱۹۱۹** کال د افغان- پرنګي دريمه جګړه او د پرنګي ماتې په بدل کې د **افغانستان پاچا، امان الله، په ۱۹۲۹ کال کی تاج اوتخت له لاسه ورکړ. د برتانيا-امريکا پر لاس پر افغانانو د ۱۹۷۹ - ۱۹۸۹روس-افغان جګړه، په ۱۹۹۳ کې** پر افغانانو د پنجشير "مافيا" د اپارتايد رژيم د تپلو په ترڅ کي له افغان ملت څخه انتقام واخستل شو او د جنرال رابرتس پر پله د پينو اينودلو پر لار د آی اس آی هغه شعار چي "کابل بايد وسوځي" عملي کړل شو. او د ۲۰۰۱ کال د يرغل (د افغان-پرنګي پنځمه جګړه) په پايله کې يو ځل بيا د افغان ملت برخليک هغو برتانوي روزلو لاسپوڅو – د پنجشير مافيا هماغه سرې وژونکواو جانيانو ته وروسپارل شو. او د دې ليکنې پر مهال د برتانيا د کسات لښکرې – د "خيل ځواک اډې"، د وپول/مونتباټن/جناح پاکستان – د خوندي ساتلو لپاره د افغانانو په قتل او ډلوژنو بوختې دي.
***

د شوروي امپراتورئ له نړيدو سره، لويديځ په سره جګړه کي ځان سوبمن وګاڼه. د دې سوبې ادعا د ضيا پر لاس د افغانانو د وژلو، معيوبولو، ښکوره کولو په ژوند او مرګ ورکو افغانانو د قربانيو په نتيجه کي وشوه. د مليونونو افغان لونو زامنو اوښکي او ويني وبهيدلې؛ افغان هيواد اود افغانانو اور او نغري په بشپړه توګه تالا او نابود شول. ګرد "فاتحان" لاړل. اسامه بن لادن هم د هغوی په ډله کي و. خو يو څه وروسته، کله چي يې د خپلو غربي او غرب-مشربه لاسپوڅو پر وړاندې نافرماني وکړه، پر بن لادن ځمکه اور وګرځول شوه او له يوه ځايه بل ځای ته په تېښته مجبور کړل شو. په نتيجه کي نوموړی د امريکا تر فشار لاندې له سودان څخه، چيرې چي د سعودي شهزادګانو له خوا شړل شوی و، وتلو ته وتړل شو. "له خپلې ډلې سره يوځای، بن لادن د کډه کولولپاره محدود انتخاب درلود: پاکستان يا افغانستان. افغانستان يې خوښ کړ او د **۱۹۹٦** کال د مېي په مياشت کې هلته لاړ." ايا ولې بن لادن د پاکستان پر ځای، افغانستان غوره وباله؟ دا ځکه چي د پاکستان پوځي-بيروکراسی او د هغه

روهان ګونارتنا ليکي چي د "کيني-ميني-خدمات" تر پوښ لاندې، د اسامه ځواکمن او اتباري انډيوال، ابو زبيده، په پاکستان کې د القاعده عمليات اداره کول اود هغو په اړه يې ده ته معلومات ورکول. کله چي اسامه – د خپلو دريو ښځو اوګڼ شمير کوچنيانو سره يو ځای – افغانستان ته ورسېد، نو له زبيده سره يې اړېکي لا نور هم نږدې شول. ابو زبيده دا مهال، له اسلامي نادولتي سازمانونو سره پر اړيکو سربيره، د هغو استخدام شويو وګړيو د لارښووني دنده هم پر غاړه درلودله چي افغانستان ته استول کيدل. په اسيا کې له اسلامي ترهګرو ډلو او سياسي احزابو سره يې هم اړېکي ساتل." **(٩٣ مخ)**

ډيويد ميلاباند په خپله مقاله کې په ژوره غوسه د کرزی پر مشرتابه نيوکه کوي. د دې غندني په ترڅ کې، د برتانيا د بهرنيو چارو د هغه مهال وزير، وايي چي: "د کرزی په مشرۍ، افغان حکومت د خپلو خلکو له خوا، د ځواکمنو جنايتکارانو، جګړه سالارانو او نړيوالي ټولني له خوا له متضادو غوښتنو سره مخامخ دی. خو په نوموړي کې د حکومت کولو ظرفيت نشته." پدې نيوکه کې ښاغلی ميلاباند پر سمه او رښتيونی دی. خو د کوم مرکزي اصل د لوڅولو په هکله، چي پرې نوموړی خوله پټوي دا دی چي بيا هم همدا برتانيا وه اوده چي همدا "جګړه سالاران" او"فاسد مامورين" – ياني د پنجشير "مافيا" يې روزل، روزي او تر وزر لاندې يې خوندي ساتي. او همدا "مافيا"ده چي کرزی يې تر محاصرې لاندې دی. له پاکستاني پوځي-بيروکراسۍ سره په تباني کې، د برتانيا د حکومت له خوا د منل شوې پاليسۍ پر بنسټ، همدا مافيا ځواکونه دي چي "ځانګړي امنيتي شرکتونه" ور سپارل شوي او پر افغان وژنه بوخت دي. د دې امنيتي شرکتونو يو خورا مهم د "کيني-ميني-خدمات" په نوم يو برتانوي شرکت دی. دا شرکت له هغو اجورتي قاتلانو ځخه جوړ دی چي په **١٩٥٠** کلونوکې د کينيا په خونړيو جګړو کې د برتانيا لپاره جنګيدل. د پخوانيو اِس اې اِس [پرنګي خاصوځواکونو] په مشرۍ، کيني-ميني-خدماتو يوه شمير کوچنيو افغان کوماندو واحدونوته روزنه ورکړې. دا روزنه په سعودي عربستان او عُمان کې د اِم آی-**٥** او سي آی اې په اډوکي ورکول کيده. دا اډې بيا وروسته – په **١٩٨٧** کال – پاکستان ته د الوتنو لپاره د تيل اخستلو او تمځايونو لپاره په کارېدلي..." کله چي له افغاستان څخه په [**١٩٨٩** کال] د روسانو وتل يقيني او په ژنيو کې خبرې مخ پر وړاندې رواني وې، د "کيني-ميني-خدماتوله خوا سي آی اې ته يوسري وړانديز واستول شو چي د پخوانيو اِس اې اِس روزونکو يوه کوچنۍ ډله دې افغانستان ته واستول شي چي په "تخريب، سبوتاژ ، ځارګرۍ ... کې باغيان ورروزي." د اِس اې اِس يو افسر، چي پدې اجنسۍ کې يې "درويشت کاله کاري تجربه" لرله، دا خبره لوڅوي چي دی پخپله "د پخوانيو اِس اې اِس عسکرو په ډله کې و" چي په سکاټلنډ او د انګلستان په شمال کې يې په **١٩٨٣ کال يو شمير کشر کومندانان د روزنې لپاره غوره کړل." [مرموزې چارې** – **١٤٣** مخ]. د احمدشاه مسعود مشر ورور،چي د برتانوي جاسوسي دستګاه، ام آی-٦ سره يې د مسعود د اړيکوال الچي دنده سرته رسوله، وايي چي "موږ له برتانويانوسره نږدې اړېکي دلودلي. درته ويلی شم چي [د نهه کلونوپه بهير کې] ما څوارلس ځله برتانيا ته د مرستي غوښتني لپاره سفر وکړ. هغوی له موږ سره ښه مرسته کوله. خورا خاص وسايل يې راکول. موږ ته يې – د

د برتانيا حکومت د حامد کرزی د کرکتر، تهذيب، خولی او چيني ژوره ستاينه کوله. پرې خورا مين و. خو پدې وروستيوکې، څرګندېږي چې مرغ [طالع] يې بدل شوی وي. اوس پسې ويل کيږي چې هغه په "دماغي ناروغی اخته، او پر چرسو معتاد دی." نو ايا څه پېښه شوه؟ ولې يې طالع بدلې شوې؟ ايا په څه ناڅه ډول کرزی د پرنګي کلونياليزم په لکۍ ختلی او دردولي يې ده؟ د پرنګي په زرادکوټ کې داسې ګرځېدني بې سابقې نه دي. په ۱۸۷۹ کال کې د افغانستان ريفورميست امير، شيرعلی خان، که څه هم پر برتانوي راج ډېر ګران نه و، خو زغامۀ يې. خو کله چې نومورې امير ځان يوڅه خپلواک وښود، نو هغه هم "نيمه وحشي او نيمه ليونی" وبلی شو. برتانيا يې پر هيواد يرغل وکړ او په پايله کې يې امير شيرعلی ژوند له لاسه ورکړ او پر افغانانو يعقوب خان اود ګندمک پوهاوی ليکوتپل شول. مګر دا مهال خو انګريزان په کابل کې دي، نو يواځنی کوم ګام که پورته کولای شي، هغه به پر ارګ ورختل وي!!

په بُن کې د ستمي ائتلاف "مافيا" د مشری خبره پخپله د حامد کرزی غوراوی نه و. کرزی پخپله د ۲۰۰۱ کال د دسامبر د مياشتې په بُن کانفرنس کې د "منځمهاله اداري" د مشر په توګه خبر نه لاره. نوموړی پدې خبره هغه وخت خبر شو چې د بي بي سي خبرياليې، ليز دوشيت، په تليفون کې ورته وويل. د تعجب خبره دا وه چې نوموړی د پنجشير مافيا، آی اس آی،ايران اواروپايانو، ګردو، شريک انتخاب و. نو ولې؟ ايا د دې نادودې شا ته کومه پټه اجندا موجوده وه؟!

هو! کرزی له دې کبله غوره شوی و چې د افغانستان د پخواني پاچا، محمد ظاهرشاه، رول چې پرشاوخوا يې افغانان راټولېدلی او د جګړې او غميزې په پايله به منتج شوی وای، سبوتاژ کړل شي. د بُن په کانفرنس کې دامريکا استازی، جېمز ډابينز، ليکي چې: "د نړيوالې ټولنې د استازو په منځکې د حامد کرزی د ټاکلو په هکله بشپړ توافق موجود و. د دې توافق په جوړولو کې ما هيڅ رول نه درلود. بلکې په بشپړه مانا، کله چې مې د هغې مياشتې په بهير کې، د پاکستاني،هندي، ايراني، روسي، تُرکي اواروپايي د بهرنيو چارو له استازوسره ليدنه کېدله، له پوښتنې پرته به يو نوم يادېدهٔ: حامد کرزی. د کرزی دنوماندی په اړه د نړيوالې ټولنې توافق د ډاکټر عبدالله فعاليت و. د نوموړي د کانديدی په اړه له ما سره پر خبرو سربيره، عبدالله [د پيټر ګالبريت قهرمان] دا سلا د روسانو، هنديانو، ايرانيانو، ترکانو او بيلابيلو اروپايي هيوادونو په ککرو کې هم ورځځولې وه." [ډابينز -۸۹ مخ]

هيله ده ښاغلی ميلاباند به پدې دوه-مخی کې د برتانيا د حکومت پر ونده رڼا واچوي؟

***

پداسې حال کې چې د افغان ملت کينه کښ غليم په خپله ليکنه کې افغانان د يوې ګډې نامتمدنو "قبايلو" په توګه انځوروي او افغانستان د "ترهګری زانګو" بلي، ډيويډ ميلاباند، ليکي چې "پاکستان د يو سل اويا مليونه وګړيو هيواد دی. ذروي وسله لري. نو پاکستان به هغه ډول چال-چلند کوي چې پر اند يې د هغه له ملي ګټو سره سم وي. له افغانستان سره [د پاکستان]

## وروستي ۳۵ کلونه د دې واقعيت زغرده بيلګه ده.

او هو! دا واقعيت لري چې پاکستان د "۱۷۰مليون وګړيو" هيواد دی. خو کوم څه چې د برتانيا د بهرنيو چارو پخوانی وزير يې پټول غواړي، هغه دا ده چې پاکستان د يوسل اويا مليونو بيلابيلو ملتونو – پنجابيانو، پښتنو، بلوڅو، سندهيانو اوسرايکانو – هيواد دی چې د پيړيو په اوږدو کې د برتانوي امپرياليزم تر وسپنيزو منګولو اود وروستيو شپيتوکلو په بهير کې د "پاک-پوخ" اوبيروکراسی" تر ترهګر استبداد لاندې ځګيروي کوي. د دويم ټکي، ياني د مزدور "پاک-پوڅ" په لاس کې د "ذروي وسلو" په هکله، چې– له پرنګي تفکر سره سم يې – ميلابانډ په نغښتي توګه د تهديد په توګه استعمالوي او داسي پيغام ورکوي چې که افغان ملت ورته د بندګۍ سجده ونکړي نو "ذروي بمونه" به پرې واوروي! پدې اړه بايد وويل شي چې افغان ملت د بيلابيلو زمانو قاتلانو وژلی او وژني يې، اودا دم به هم کومه استثنا نه وي.

***

ميلابانډ د مليونونو افغانانو د مرګ، ژوبلې اوتري تم-کيدوپر بيه سره جګړه "وګټله". په پايله کې يې د يو کڼ شمير ملتونو هيلې او ارمانونه پوره شول. ختيزه اروپا ازاده شوه. د برلين ديوال ونړيد،المان متحد شو. د افغانستان شمالي ګاونديان،چې ګرد د ميلابانډ د "لويې لوبې" قربانيان وو، هم ازاد شول. خو يواځې افغان ملت، د مونټباټن پاکستان او "برتانيا د ملي امنيت اوملي ګټو د ساتلو په خاطر" په خپلو وينو او اوښو کې لاهو کړل شو او پکې لمبول کيږي.

دلته غواړم د ډيويډ ميلابانډ مغرورانه وجدان ته رجوع وکړم چې پر پورتنيو حقايقو يو ځل بيا-نظر وکړي او قضاوت وکړي چې د عدم تشدد د ستر پالندوی او په پرنګي او پاکستاني جيلونو کې د هډماتي فخر افغان، باچاخان، په وينا " پښتنو څه ګناه کړې ده چې د تاريخ له پاڼو يې د ورکيدوتکل روان دی؛ له خپلې خاورې محروم او د نابودی کندې ته ورټيلوهل کيږي. په پيړيو يې سوله نه ده ليدلې. پرله پسې توګه بمونه پرې اوريږي، جګړه او ډلوژنه يې په برخه ده. خاوره اووطن يې دجګړې او امپريالستي ځواکونو د روزنې ډګر دی... د ژوند له هر ضرورت څخه محروم شوي. په زرګونو-زرګونو يې د پخوانيو استبدادګرو په لاس قتل شوي. اود برتانيا اوپاکستاني ظلمونوپه نتيجه کې په لکونو پښتانه، چې په اسيا کې به يو ځواکمن ملت او د بشري داعيې په خدمت کې وای، له يوه بل څخه بېل او ځبل شوي دي. زما تکل د دې ناعدالتی پر خلاف مبارزه ده."

که د ښاغلي ډیویډ میلابانډ زړه پدې کرښو کې نغښتی درد، ساندي او واویلا ونه دردوي، نو د سولې هڅې به یې بیله څو سطحي شعارونو بل څه نه اوکومه لاسته راوړنه به ونه لري.

***

اوس پخپله د افغان ملت لپاره اړینه ده پدې خبره سر خلاص کړي چې هماغه برتانیا، چې یوه نیمه پېړۍ یې د افغان ملت لوټي-زامن وژلي، شل شوټ او بیکوره کړي، اوس بیا پر افغان خاوره د هماغې موخې د دوام لپاره ګونډې وهلې دي. پدې کار کې د استبداد او ناعدالتی دا مور د "خپلو سیمییزو خوبولو اجنټانو" او د "مرستندویه کارکوونکو، نادولتي ادارو، ژورنالستانو، سوله جوړونکو او ماهرانو" تر نقاب لاندې د زرګونو برتانوي جاسوسانو له خوا ملاتړکیږي. د پرنګي فلسفي پر اند، "له تکاملي اصل سره سم، قوي ژوندی پاتي کیږي او کمزوری نابودیږي." نو د ځنګل د دې قانون پر بنا به، زموږ په سیمه کې دا روانه وضع، روانه وي او ورته د پای ټکي له ایښودلو پرته به پای ته ونه رسیږي. له همدې کبله له امو تر اباسن پورې د هر افغان، ښځې اونارینه، سپیڅلې وظیفه ده چې د قربانۍ لپاره ځان تیار اوخپل برخلیک په خپل لاس وټاکي.

او له دې پرته به پر بل هیڅ څه قانع نه شي!

ان شا الله تعالی.
یا ربه توفیق!
زرملوال

غلام محمد